د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپېڅلي نامه

Logar

# لوګر

میاشتنۍ خپرونه

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

یکشنبه د۱۳۹۴ کال دمرغومې میاشتې شپږمه د ۲۰۱۵ عیسوي کال دډسمبر اوو ویشتمه ۱ پرله پسې ګڼه (۷۵) لومړی کال، اومه ګڼه

### داولاد روزنه

اولاد دخدای (ج) ستر نعمت وګڼئ اوشکر وباسئ چې تاسو ته یې دخپل بنده د روزنې او پالنې وخت درکړ او دغه اولاد به ستاسوځای ناستې شي. د اولاد په تعلیم او تربیه کې د یوې زرې په اندازه غفلت هم ستاسو د دنیا او آخرت ذلت او رسوایي ده ځکه مات لاس غاړې ته ځی. اولاد ډیر وخت د مور ترڅارنې لاندې وي په تیره بیا چې پلار یې مسافروي. ترهرڅه مخکې خپل اولادونه په پوره دیني‌زده کړه او دینداري عادت کړئ، ځکه یواځې مسلمان او تقوی واله اولاد دمور اوپلار حقوق ښه پیږني او دمورااوپلار خدمت به په پوره اخلاص وکړي.

# لوګر کې ۹۴ پراختیا یي پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

په لوګرولایت کې دکلیواوپراختیا وزارت دملي پیوستون ۹۴ پراختیایي پروژې دلیندي په ۱۷ مه بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. ددغو پروژو د پرانیستو په موخه دولایت په مقام کې غونډه جوړه شوې وه، چې لوګر والي محمد حلیم فدایي، دکلیو او پراختیا وزیر انجینر نصیراحمد دراني، د چاپیریال ساتنې دملي ادراي مرستیال انجینر واصل بازغ، د مشرانو جرګې دوهم مرستیال ډاکټر محمد آصف صدیقي، د ولایتي شورا رئیس او غړو یې؛ سربیره دولایت د ملکي او نظامي ادارو مسؤلینو هم ګډون کړی ؤ. د کلیو، بیارغونې او پراختیا وزارت دملي پیوستون پروګرام دمعلوماتوله مخې:

په لوګرکې ۹۴ بیلابیلې پروژې د ۱۳۲ میلیونو او ۹۲۱ زره افغانیو په لګښت د برکي برک، څرخ، خروار، خوشي، محمد آغې او ازرې په ولسوالیو کې د روان کال دوړې د میاشتې دلومړۍ نیټې څخه تر اوسه بشپړې شوې او د خلکو د استفادې وړ و ګرځېدې.

په دې پروژو کې؛ ۲۲۷۷ متره دځمکوخړوبولو کانالونه، ۲۲۳۳ متره محافظتي دیوالونه، ۱۰۲ پلچکونه، ۵۰۱۰ متره استنادي دیوالونه، ۱۲۸۴۲ متره دپلې لارو پخول، ۷.۱ کیلومتره سړک، پنځه دځمکوخړوبولو حوضونه، ۱۲بابه ټولنیزمرکزونه، ۲۳۵ متره د ټولنیزو مرکزونو داحاطې دېوالونه، ۱۰ دڅښاک داوبو حوضونو جوړول، ۴۹.۹۴ کیلو واټه دبرښنا تولید، ۲۲.۵ کیلومتره دڅښلو داوبو پایپ لین غځول، ۷۲۱ متره کاریزکیندل او ۱۷۲ حلقې دڅښلو داوبو څاګانو کیندنه اودلاسي بمبو نصبول شامل دي. چې له دغو یادوو شو پروژو څخه ۱۳۲۹۵ کورنۍ ګټه اخلي.

دکلیو دبیارغونې او پراختیا وزارت، دملي پیوستون پروګرام په لوګرولایت کې (۷۹۵) کلي تر خپل پوښښ لاندې راوستي او تراوسه توانیدلي چې (۱۴۰۲) پروژې په بیلابیلو سکټورو کې بشپړې او ګټې اخستنې ته وړاندې کړي او (۴۷۲) نورې پروژې یې تر کار لاندې دی.

ددغو پروژو دپرانستلو پرمهال لوګروالي محمدحلیم فدایي خوښي ښرګنده کړه. والي؛ لوګرولایت ته د ۳۸،۰ سلنه په ملي بودجه کې برخه ورکول دارزونې پراساس خورا کمه اودلوګرولایت داړتیاوو په پوره کولواو اوسني وضعیت ته په کتو؛ په اقلیت کې یې دراني ژمنه وکړه، چې په راتلونکي کې د ۲،۳ میلونه ډالرو په ارزښت دلوګرپه ولایت کې پروژې پلې کړي، چې زیاتره به یې استنادي دیوالونه، څاګاني او پلونه وي.همدارنګه



وشمیرل. دکلیواوپراخیتا وزیر څخه یې غوښتنه وکړه چې لوګر ولایت ته باید زیاته پاملرنه وکړي.

د کلیو او پراختیا وزیر وویل: زموږ موخه له دې پروژو څخه دادي ترڅوولسونه او دولت سره یوځای اونږدې کړو، موږ په ټولیزډول د خلکو د باور لپاره ۳۵ زره شوراګاني جوړي کړي دي. نوموړي وویل: لوګر د کابل دروازه ده اولازمه وه، چې دلته باید ډیرپراخیتایي کارونه شوی وای.

د مشرانو جرګې دوهم مرستیال او د ولایتي شورا رئیس هم د دغه پروژو په پرانستو خوښي ښرګنده کړه، د کلیو او پراختیا وزیر او د لوګر له والي څخه یې مننه وکړه چې د ټولګټو پروژو د پلې کولو لپاره لېوال اونه ستړي کیدونکي هلې ځلې ترسره کړي دي.

پاتې په دریم مخ کې








## پارک مرکزی شهرپل علم بنام تاپی مسما شد

پارک مرکزی ولایت لوگرطی محفل با شکوهی به اسم تاپی (TAPI) ازسوی والی این ولایت مسما شد. محفل که بدین مناسبت درپارک یادشده به تاریخ 29 قوس راه اندازی شده بود محمدحلیم فدایی والی ولایت لوگر، سید قریب الله سادات رئیس شورای ولایتی، مل پاسوال محمدداوداحمدی قوماندان امنیه، روسای ادارات دولتی، بزرگان قومی، ورزشکاران وجوانان درآن اشتراک ورزیده بود ، این محفل با شکوه بخاطرحمایت ازامضاء قرارداد پروژه تاپی میان افغانستان، ترکمنستان، پاکستان وهند دایرگردیده بود که درآن علاه ازمنسوبین دولتی، اعضای جامعه مدنی و باشندگان ولایت لوگرنیزحمایت شان را ازپروژه تاپی اعلان نمودند.

براساس توافق‌نامه‌های جداگانه‌ای که اخیراً میان کشورهای افغانستان، ترکمنستان، پاکستان و هند به امضا رسیده، دولت افغانستان میتواند طی سی سال سه میلیارد مترمکعب گاز از خط لوله گاز «تاپی» استفاده کند. گفته میشود مدت استفاده افغانستان از خط لوله گاز «تاپی» به سه دوره زمانی ده ساله تقسیم شده است که در این دوره‌ها در مجموع سه میلیارد مترمکعب گاز استفاده کرده می‌تواند.

کشور ترکمنستان که دارای چهارمین ذخیرگاه بزرگ گاز در جهان است، در نظر دارد که سی میلیارد مترمکعب گازش را از طریق پروژه «تاپی» به کشورهای هند و پاکستان انتقال دهد. طول این خط لوله گاز نزدیک به دو هزار کیلومتر برآورد شده که هشتصد کیلیومتر آن از خاک افغانستان عبور خواهد کرد. ولایات هرات، فراه، هلمند و قندهار در مسیر عبور خط لوله گاز ترکمنستان به کشورهای هند و پاکستان قرار دارند. دولت افغانستان انتظار دارد که برعلاوه تهیه گاز مورد نیازش از این لوله، سالانه نزدیک به چهارصد میلیون دالر نیز از بابت انتقال گاز ترکمنستان به کشورهای هند و پاکستان به‌دست آورد. هزینه این پروژه از هفت تا نه میلیارد دالر تخمین شده است.

محمدحلیم فدایی والی لوگرطی سخنانش آغازکارپروژه تاپی را به نفع کشورومنطقه دانست وخاطرنشان ساخت پروژه مذکوریکی ازپروژه ها ی زیربنایی میباشد که نقش محوری واساسی را درامنیت واقتصاد افغانستان ومنطقه دارد ،آقای فدایی گفت: پیغام پروژه تاپی این است که جفرافیا این کشوربرای هیچ یک ازهمسایه ها ی ما جغرافیه خطرنه بلکه نقطه همکاری ووصل میباشد.

طی این محفل پارک مرکزی شهرپل علم بخاطرحمایت ازاین پروژه بنام تاپی مسما شد ،قابل یاد آوری است که درپروگرام یادشده مل پاسوال محمدداوداحمدی قوماندان امنیه لوگر، بریدجنرال عبدالرازق صافی قوماندان لیواءچهارپیاده قول اردو203 تندر، سمونوال محمدوراانداربی آمرامنیت، وبرخی ازمنسوبین امنیتی دیگربه پاس خدمات شایسته شان درتامین امنیت وزحمات چشمگیرشان که علی الخصوص درعملیات های ولسوالی ازره، خرواروزرغون شهرازخودنشان دادند با اهدای تقدیرنامه درجه سه ازطرف مقام ولایت لوگرموردتقدیرقرارگرفتند.

ورزشکاران به نوبه خود دراین محفل با نمایش حرکات جالب وديدنی ورزشی حمایت شانرا ازپروژه تاپی اعلان نمودند.

درپایان پروگرام منسوبین نظامی وملکی دولتی وورزشکاران کبوترهای سفید وپوقانه ها را به نشانه صلح وآبادی کشور، درفضا رها نمودند. باختر

### سرلیکنه

## د ژمي په رارسیدو دخلکو اندیښنې او اړوندو سکتورونو ته وړاندوینې

افغانستان یوله هغو هیوادوڅخه دی، چې دژمې موسم یې ډیر سوړ اویخني په کې زیاته وي، چې په دې موسم کې دساختماني او نورکارونه؛ نه ترسره کیږي، زیاتره کارګران په دې فصل کې بیکاراوبې روزګاره کیږي، دوی چې کوم پیداوارپه تیرو موسمو کې لاس ته راوړي، هغه هم په دې دریو میاشتو کې په ځان مصرفوي. دولت دوی لپاره هم داسې ځانګړې پلان نه لري، چې ورته دکاراوبار زمینه برابره کړي. په ژمي کې دخلکو اندښنې د تشویش وړ دي، ځکه چې افغانان داقتصادي له پلوه ډیربیوزله او بیچاره خلک دي اوهمدارنګه زموږ په هیوادکې دیخنۍ لپاره داسې پرمختللي وسایل ته لاسرسی هم نه لري، ترڅوله هغووسایلو ګټه پورته کړي او تردې هم په زیاتره کورنو کې دسون توکي ته خلک اندیښمن دي، چې دځان دتودوالي په موخه یې وکاروي. نو اکثره ماشومان په ناروغیو اخته کیږي، چې بیا دکورنۍ سره دماشومانودرملنې توان هم نه وي.

دژمي دموسم په رارسیدو، دسون، خوراکي اوداسې نوروتوکو بیې لوړیږي اوخلک یې داخیستلو توان هم نه لري، ډیري خلک خپل ژوند په ډیروناخوالواوستونزمنو شیبو مخته وړي، خودافسوس ځای دی، چې زموږدولت ولې دژمې په رارسیدو لازم تدابیرپه پام کې نه نیسي، چې بیوزلو خلکولپاره مرستې وکړي اویا داچې د لوړو بیو مخه ونیسي، نوله دې کبله دخلکواندیښنې ورځې تربلې زیاتیږي.

ددې لپاره، چې په افغانانو ژمی ښه تیرشي، دولت ته لازم ګڼو، ترڅو مخکې له مخکې هغه کورنۍ ته چې بیوزله دي، دخوړو اوغیرې خوړو توکې ورسوي. دعامې روغتیا چارواکي هم په کلیوالي سیمو کې د درملو په آماده کولو اوهمدارنګه دسیارو روغتیایي مرکزونو په بیارغونه کې کوټلي ګامونه واخلي، ځکه پدې یخو ورځو کې زیاتره ماشومان اولویان په بیلابیلو ناروغیو اخته کیږي، چې د درملنې لپاره یې له هماغه سیارو مرکزونو ګټه واخیستل شي.

پاتې په دریم مخ کې

په پوهه او فلسفه کې؛تعصب لکه د بل هر تعصب غوندې د خاموالي نښه ده، چې تل د رښتیا په زیان تماميږي. (ابن سینا)